مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۳٦** (از ۱۱ الی ۱۸ میزان ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### د کندز سقوط او د افغان جګړې نوې اړخونه

- د طالبانو د جنګي ستراتيژۍ بدلون ........ ۴
- کندز ولې سقوط وکړ؟ ........ ۴
- په کندز کې روان ناورین ........ ۵
- په شمال کې د طالبانو ځواکمن حضور ........ ۷
- د شمال ناامنۍ او د سیمې د هېوادنو غبرګون ........ ۸
- د کندز سقوط او د امریکايي سرتېرو د ایستلو بحث ........ ۹

### پیامدهای حضور نظامی روسیه در سوریه

- دفاع از یک رژیم شکست خورده ........ ۱۰
- تعبیر از تروریزم ........ ۱۱
- هماهنگی میان ایران و روسیه ........ ۱۱
- ناتوانی امریکا در مهار بحران سوریه ........ ۱۲
- چرا سوریه برای روس‌ها مهم است؟ ........ ۱۳
- نتیجه گیری ........ ۱۴

## مقدمه

د طالبانو له خوا د کندز ولایت له سقوط وروسته له تېرو دوو اوونیو راهیسې په دغه ولایت کې توده جګړه روانه ده او د جګړې پر ښکېلو لورو سربېره، د سیمې خلکو ته درانه زیانونه اوښتي چې له دې جملې د امریکایي ځواکونو له خوا د بې‌پولې ډاکټرانو پر روغتون بمباری یې په نړیواله کچه غبرګونونه له ځان سره درلودل.

طالبان په کندز کې د اټکل خلاف زیات پاتې شول، کوم څه چې د طالبانو په جنګي ستراتېژي کې د بدلون څرګندونه کوي. دلته مو د طالبانو د جنګي ستراتېژۍ پر بدلون، د کندز د سقوط پر عواملو، په دغه ولایت کې د روان ناورین، په شمال کې د طالبانو د ځواکمن حضور او د کندز د سقوط د بهرنیو ابعادو په اړه شننه کړې ده.

د دې ترڅنګ د دې اوونۍ په تحلیل کې، په منځني ختیځ کې د سوریې د قضیې د تازه بدلونونو په تړاو شننه لولئ. په سوریه کې د بشارالاسد د رژیم پر ضد د پاڅونونو له پیل راهیسې روسانو په نړیواله کچه له دغه رژیم څخه ملاتړ کاوه؛ خو اوس یې په دغه هېواد کې د نظامي حضور لپاره ګام اوچت کړ او د لوېدیځ او د اهدافو په مقابل کې راپاڅېدل. پوښتنه دا ده، چې په سوریه کې به د روسیې له نظامي مداخلې سره، د منځني ختیځ کړکېچ په کوم لوري ولاړ شي؟

د همدغو موضوعاتو ببلاببلو اړخونو ته په کتو سره، د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د خپرنیزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# د کندز سقوط او د افغان جګړې نوي اړخونه



په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو د حضور ۱۴ کلونه پوره شول؛ خو له امنیتي پلوه د هېواد وضعیت تر دې ځایه راورسېد، چې په تېرو ۱۴ کلونو کې په لومړي ځل، د هېواد د مهمو ولایتونو له جملې څخه کندز ولایت د طالبانو ولکې ته ورغی.

دا مهم خبر په داخلي، سیمه‌ییزو او نړیوالو رسنیو کې په پراخه کچه خپور او د یوه جدي ګواښ په توګه مطرح شو. د سیمې یو شمېر هېوادونه د کندز سقوط، په شمال کې روانې ناامنۍ او په افغانستان کې د طالبانو نوي پرمختګونه په ډېر دقت سره ځاري. دې پېښې د نړیوالو تاوده غبرګونونه هم له ځان سره درلودل او داسې ښکاري، چې امریکا به هم په افغانستان کې په خپله روانه جګړه او خپلو وروستیو درېځونو بیاکتنه وکړي.

دغه راز د کندز ښار له سقوط وروسته، د دغه ولایت د بېرته نیولو په هلو ځلو کې د امریکایي ځواکونو له خوا د بې‌پولې ډاکټرانو پر روغتون بمباري او درنه مرګ ژوبله هم هغه پېښه وه، چې په هېواد کې دننه او بهر یې توند غبرګونونه له ځان سره درلودل.

په امنیتي ډګر کې د کندز سقوط تر ډېره د ملي وحدت حکومت ناتواني او بې‌وسي په ډاګه کړه او شاید له دې وروسته جګړه نور هم زور واخلي. ترڅنګ یې په شمال کې د کندز سقوط او روانو ناامنیو له کبله د ځینو هېوادونو اندېښنې له دې کبله هم وپارېدلې، چې هسې نه د افغانستان ناامنۍ دغو هېوادونو ته پراخې شي.

## د طالبانو د جنګي ستراتيژۍ بدلون

د کندز د سقوط په پيل کې ګومان کېده، چې طالبان به ډېر ژر د کندز ښار پرېږدي او يا به د امنيتي ځواکونو له خوا په شا وتمبول شي؛ خو د اټکل خلاف طالبان له کندزه په شا نه شول، بلکې مخامخ جګړې ته يې دوام ورکړ. که څه هم افغان چارواکي له کندزه د طالبانو د په شا کولو خبره کوي[1]؛ خو ترځنګ يې طالبان بيا په کندز کې د خپل واکمن حضور ادعا کوي[2] او لاهم پر کندز بشپړ تسلط، يوه لوري ته هم نه شي منسوبېدلی.

د کندز سقوط د طالبانو د نوې جنګي ستراتيژۍ پېلامه بلل کېدای شي، چې دوه څرګند اړخونه لري:

**لومړی:** دا چې د طالبانو جګړه تر لويو ښارونو پورې پراخه شي؛

**دويم:** طالبان غواړي په نيول شويو سيمو کې خپلې پښې ټينګې کړي.

طالبانو به د کندز له سقوط څخه وړاندې په لويو ښارونو کې يوازې چاودنې کولې او يا به يې هلته په وسلو سمبال څو کسيزې ډلې د ډلهييزو بريدونو لپاره استولې. د دغو ډلو موخه به يوازې پر يوه سيمه ډلهييز بريد و، نه دا چې هغه سيمه ونيسي او خپل تسلط پکې ټينګ کړي؛ خو د کندز له پېښې وروسته داسې ښکاري، چې طالبان به په ښاري سيمو کې هم نه يوازې دا چې جګړه پيل کړي، بلکې پر نيول شويو سيمو به د خپل تسلط ټينګولو هڅه هم کوي.

## کندز ولې سقوط وکړ؟

طالبانو د کندز ښار له سقوط وړاندې د ۲۰۱۵ کال د اپرېل په ۲۴مه د کندز د ګورتېپې سيمه ونيوله، چې تقريباً له ۴۰ څخه تر ۵۰ پورې کلي لري او د کندز ښار ته نږدې پرته سيمه ده. وروسته يې د جولای په مياشت کې د چاردرې او قلعهی زال ولسوالۍ هم ونيولې. بله خوا افغان امنيتي ځواکونو د ګورتېپې سيمه له طالبانو څخه پاکه نه کړه، بلکې يوازې يې د ګورتېپې پر سرک يوه پوسته جوړه کړه، ترڅو د طالبانو په لاره کې خنډ شي.

[1] وګورئ؛ آزادي راډيو، افغان سرتېرو د کندز ښار زياتې سيمې له وسلهوالو طالبانو څخه پاکې کړې، پرليکه بڼه:
http://pa.azadiradio.org/archive/local/20151007/1092/2120.html?id=27292402

[2] وګورئ؛ د طالبانو رسمي وېبپاڼه، د کندز ښار او ولسواليو په اړه تازه معلومات، پرليکه بڼه:
http://alemara1.org/?p=30487

همدا راز طالبانو د اگست تر میاشتې پورې په خان‌آباد او امام صاحب ولسوالیو کې هم خپلې پښې ټینګې کړې[3] او وروسته یې د سپټمبر میاشتې په وروستیو کې د کندز پر ښار بریدونه پیل کړل.

د کندز ولایت یوه اوسیدونکي د امریکا غږ راډیو ته د میزان په ۱۴مه وویل، چې طالبانو د اختر په ورځ په کندز ولایت کې د کندز پر ښار د بریدونو په اړه پاڼې ووېشلې او له جوماتونو څخه یې د بریدونو اعلانونه وکړل[4]. که څه هم موږ ته لا په دې تړاو د طالبانو لیکلې پاڼې نه دي رسېدلې؛ خو ښایي د افغانستان د ملي امنیت دا ادعا به هم له همدې ځایه وي، چې دوی د کندز پر ښار د طالبانو له ډله‌ییزو بریدونو څخه خبر وو.

د دې ترڅنګ د کندز ښار په سقوط او په بشپړه توګه د کندز ښار په بېرته نیولو کې د افغان ځواکونو ناکامي له دې کبله هم روښانه ده، چې امنیتي ځواکونو په خپل منځ کې سمه همغږي نه درلوده او له ځایي خلکو سره یې چلند هم سم نه وو. په پارلمان کې د کندز د خلکو استازي هم په دې اند دي، چې د امنیتي ځواکونو ترمنځ همغږي نه وه.

د کندز ښار په سقوط کې له ځایي خلکو سره د اربکي ملېشو بد چلند، مافیایي کړۍ او له نظامي پلوه د طالبانو ځواکمنتیا هم نور لاملونه دي. په دې تړاو د کندز د پخواني والي محمد عمر ساپي په اند، د کندز په سقوط کې د نشه‌یي توکو قاچاقبرانو او نامسؤولو وسله‌والو لاس درلود. نوموړی وایي، چې ده د دغو کسانو لېست مرکزي حکومت ته استولی و؛ خو په ځواب کې ورته وویل شول، چې یوازې طالب ته مخه کړه او پر نا مسؤولو وسله‌والو کار مه لره[5].

## په کندز کې روان ناورین

په کندز کې له تېرو دوو اوونیو راهیسې د سیمې پر خلکو ناورین روان دی. په دې لړ کې د امریکایي ځواکونو په بمبارۍ کې د بې‌پولې ډاکټرانو روغتون په نښه شو، چې له کبله یې تقریباً ۲۲ کسان ووژل شول او لسګونه نور ټپیان شول.

---

[3] د زیاتو معلوماتو لپاره ولولئ:
/https://www.afghanistan-analysts.org/the-fall-of-kunduz-what-does-it-tell-us-about-the-strength-of-the-post-omar-taleban

[4] امریکا غږ تلویزون، خبرونه، د کابل پر وخت د ماښام اووه بجې، د ملي تلویزیون پر څپو، د میزان ۱۴مه.

[5] وګورئ له شمشاد تلویزون سره د کندز د والي محمد عمر ساپي مرکه، په پرلیکه بڼه:
http://www.shamshadtv.tv/2013-03-27-17-58-02/4015.html

امریکایي هوایي ځواکونو د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په ۳مه نېټه په کندز کې د بې‌پولې ډاکټرانو په یوه روغتون د شپې له خوا داسې مهال بمبارې وکړه، چې د بې‌پولو ډاکټرانو د سازمان په وینا، د جګړې دواړو لوریو ته یې د دغه روغتون په اړه معلومات ورکړي وو. له بلې خوا په جګړه کې روغتیایي مرکزونه او د زخمیانو د درملنې ځایونه په قصدي توګه په نښه کول، د جنیوا د کنوانسیون او د نړیوال قانون د مقرراتو خلاف دي. له همدې کبله د بې‌پولې ډاکټرانو سازمان وایي، چې په کندز ښار کې پر روغتون د امریکایي ځواکونو له خوا هوایي برید، د جنیوا پر کنوانسیون برید دی[6].

په دې اړه ویل کېږي، چې امریکایي ځواکونو دا بمبارې د افغان امنیتي ځواکونو په خوښه کړې ده؛ ځکه د افغان چارواکو په وینا طالبان نوموړي روغتون ته ننوتي وو[7]. دا برید په نړیواله کچه وغندل شو او د امریکا ولسمشر هم د یادې پېښې له کبله ښښنه وغوښته.

همدا راز د تېرو دوو اوونیو جګړې له کبله، کندز ښاریان د خوراکي توکو له کموالي، د برېښنا او روغتیایي خدماتو له نشتون، د ړندو بمباریو له وېرې او د وژل کېدو له اندېښنو سره مخ دي. د همدې روان ناورین له کبله یو شمېر کندزیان ګاونډیو ولایتونو ته اوښتي، چې د افغانستان د کډوالو چارو وزارت یې تر اوسه شمېره ٦ زره تنه ښیي[8].

د کندز له سقوط وروسته په دغه ولایت کې د طالب جنګیالیو له خوا د عامه شتمنیو د لوټولو او نورو ورانکاریو په اړه هم د یو شمېر رسنیو له خوا راپورونه نشر شول. که څه هم طالبانو دا راپورونه د مقابل لوري تبلیغات وبلل او ترڅنګ یې په ولسي جرګه کې د کندز استازو هم د طالبانو له خوا د لوټماریو راپورونه آوازې وبللې؛ خو یو شمېر شنونکي په دې اند دي، چې په دغه ولایت کې له ګډوډۍ څخه په استفادې سره، هلته د ځینې ډلو له خوا د هر ډول ناوړه کړنو شونتیا موجوده وه.

---

[6] بي بي سي پښتو، د کندز پر روغتون برید اصلاً پر جنیوا کنوانسیون برید دی، د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر ۷مه، پرلیکه بڼه:
http://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2015/10/151007_ma_mfs_geneva_kunduz

[7] د زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ:
https://www.afghanistan-analysts.org/airstrike-on-a-hospital-in-kunduz-claims-of-a-war-crime/

[8] طلوع نیوز، د کډوالو وزارت: له کندز څخه ٦زره تنه بې‌ځایه شوي، د ۱۳۹۴ کال د تلې ۱۳مه، په پرلیکه بڼه:
http://www.tolonews.com/pa/afghanistan/21731-kunduz-war-leaves-6000-homeless-officials

## په شمال کې د طالبانو ځواکمن حضور

د کندز سقوط په شمال کې د طالبانو د ځواکمن حضور ښودنه کوي. په شمال کې د کندز ښار د طالبانو د راتلونکو عملیاتو او هلو ځلو لپاره ستراتیژیک ارزښت لري. د دې ترڅنګ طالبانو له دې کبله هم خپل نوي نظامي عملیات له کندزه پیل کړل، چې د کندز له ښار سره ښې هیلې لري؛ په ۹۰مه لسیزه کې هم په شمال کې کندز لومړنی ښار و، چې د طالبانو لاسونو ته ولوېد او همدا راز وروستی ښار هم شو، چې د ۲۰۰۱ کال په پای کې د دوی له ولکې څخه ووت.

د کندز ښار له دې کبله هم ستراتیژیک ارزښت لري، چې دا د دوو نورو مهمو ولایتونو-بدښخان او تخار -په لاره کې پروت دی. دا چې په بدخشان او تخار کې د طالبانو جګړه ورځ تر بلې تودېږي، شاید یو لامل یې دا هم وي، چې دوی په کندز کې ځواکمن حضور لري.

د کندز له سقوط څخه وړاندې او وروسته په شمال کې د بدخشان، بغلان، تخار او فاریاب ولایتونو یو شمېر ولسوالۍ هم سقوط شوې. په همدې تړاو د "لانګ وار ژورنال" د څېړنې مطابق، په ټوله کې د افغانستان له ۳۹۸ ولسوالیو څخه ۲۹ ولسوالۍ د طالبانو په ولکه کې دي او پر ۳۶ ولسوالیو بیا سخته جګړه روانه ده؛ خو په مشخصه توګه د ۲۰۱۵ کال د سپټمبر له ۲۸ راهیسې د افغانستان د څلورو شمالي ولایتونو (بدخشان، بغلان، کندز او تخار) ۹ ولسوالۍ اوس هم د طالبانو په ولکه کې دي.[9]

همدا راز تېره اوونۍ د سرپل د کوهستاناتو ولسوالۍ هم طالبانو ونیوله[10] او په فاریاب کې قیصار ولسوالۍ هم د طالبانو په ولکه کې ده. په دې توګه په شمال کې ناامنۍ او د طالبانو له خوا د ولسوالیو پرله‌پسې سقوط له بدخشان ولایت څخه نیولې تر فاریاب ولایت پورې غځېدلې او د شمال دغه ولایتونه بیا د منځنۍ آسیا له دریو هېوادونو سره مخامخ پولې هم لري.

که څه هم په شمال کې دغه پورتنی وضعیت د حکومت د ستونزو، داخلي اختلافاتو، د امنیتي ځواکونو د نه همغږۍ او د نامسؤولو وسله‌والو له کبله هم دی؛ خو له دې سره سره په شمال کې د طالبانو د ځواکمن حضور ښودنه هم کوي.

---

[9] د لانګ وار ژورنال د څېړنې لوستلو لپاره لاندې لینک پرانیزئ:
http://www.longwarjournal.org/archives/2015/10/taliban-controls-or-contests-scores-of-districts-in-afghanistan.php

[10] طلوع نیوز انګلیسي پاڼه، د سرپل کوهستانات ولسوالۍ طالبانو ونیوله، د اکتوبر ۳مه، پرلیکه بڼه:
http://www.tolonews.com/en/afghanistan/21702-sar-e-puls-kohistanat-district-falls-to-taliban

## د شمال ناامنۍ او د سيمې د هېوادنو غبرگون

د افغانستان په شمال کې د ناامنيو تر شا د منځنۍ آسيا د هېوادونو اندېښنې د لاندې عواملو له کبله دي:

**لومړۍ:** د افغانستان په شمالي سيمو کې د منځنۍ آسيا د سختدريځو ډلو د جنگياليو شتون[11]؛

**دويم:** له افغانستانه منځنۍ آسيا ته د ناامنيو د پراخېدو وېره؛

**درېيم:** داعش ډله، چې د ازبکستان اسلامي غورځنگ، د اسلامي جهاد اتحاد او د جماعت الانصار ډلو له دغې ډلې سره وار له مخه بيعت هم کړی دی.

همدا لامل دی، چې د کندز سقوط او په شمال کې روانو ناامنيو د منځنۍ آسيا د هېوادونو او روسيې غبرگون هم پارولی دی.

د کندز د سقوط په لومړيو ورځو کې د تاجکستان حکومت له افغانستان سره خپلې درې پولې وتړلې؛ خو د يوه خبر له مخې، دغه پولې اوس بېرته پرانيستل شوې دي. د تاجکستان ولسمشر هم د افغانستان په شمالي سيمو کې پر امنيتي وضعيت اندېښنه څرگنده کړې او د ده په گمان د افغانستان د شمال په ٦٠ سلنه سيمو کې دا مهال جگړه روانه ده.

په شمال کې د روانو ناامنيو له کبله روسيې د گډ امنيت تړون سازمان د ځواک شمېره ۷۰ زرو ته ورسوله، چې په ۷۲ ساعتونو کې به د گواښ سيمې ته ځانونه رسوي. همدا راز په روان کال په مې مياشت کې د دغه سازمان ۲۵۰۰ سرتېرو په تاجکستان کې نظامي تمرينات ترسره کړل او د ۲۰۱۵ کال د سپټمبر په مياشت کې ۹۵ زره روسي سرتېرو هم په دې موخه نظامي تمرينات وکړل، چې په منځنۍ آسيا کې د د غير منتظره پېښو مخنيوی وکړای شي. د دې ترڅنگ به روسيه په تاجکستان کې د خپلو سرتېرو شمېره هم له ٦٥٠٠ څخه تر ۹ زره پورې لوړه کړي[12].

---

[11] افغان حکومت تاييدوي، چې په شمال کې د ناامنيو تر شا چيچن، ازبک، تاجک او ترکمن جنگيالي هم دي. همدا راز د تاجکستان د ملي امنيت د کميټې په اند د تاجکستان د سختدريځو ډلو يو شمېر وسله‌وال غړي د تاجکستان پولو ته نږدې، د افغانستان د شمالي سيمو په لور تبنتېدلي دي.

[12] د زياتو معلوماتو لپاره ولولئ:
http://gandhara.rferl.org/content/afghanistan-kunduz-central-asian-security/27289273.html

## د کندز سقوط او د امریکایي سرتېرو د ایستلو بحث

د طالبانو له وروستیو پرمختګونو وروسته په لویدیځ او په تېره بیا امریکا کې د افغانستان د قضیې په تړاو هم نوي بحثونه راپورته شول، چې د لویدیزو ځواکونو له وتلو سره طالبان بیا پر افغانستان واکمن نه شي او په دې توګه د ۹۰مې لسیزې په شان بیا د "سختدریځو ډلو" پټنځای ونه ګرځي.

په همدې تړاو په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو مشر جنرال کمپبل د امریکا سنا مجلس ته وویل، چې امریکا باید د خپلو سرتېرو د وتلو پر پروګرام بیاکتنه وکړي؛ ځکه هغه مهال چې دا پلان جوړ شوی و، په افغانستان کې داعش حضور نه درلود او د افغانستان اوسنیو حالاتو د ۲۰۱۴ کال له حالاتو سره ډېر توپیر درلود[13].

همدا راز د امریکا د سنا مجلس د وسلهوالو خدماتو د کمیټې یوه غړي له سي. ان. سره په یوه مرکه کې وویل، چې «له افغانستان څخه به د امریکایانو وتل لویه تېروتنه وي. حکومت باید داسې تېروتنه ونکړي، چې "ترهګر" بیا د امریکا امنیت وننګوي[14].» که څه هم په امریکا کې په دې اړه تاوده بحثونه روان دي، خو یو شمېر افغان شنونکي بیا دې چارې ته د یوې ډرامې په سترګه ګوري او په دې اند دي، چې امریکایي ځواکونه له افغانستانه د وتلو هوډ نه لري او په دارنګه دریځونو کې خپلې اوږدمهالې موخې لټوي.

[13] Xinhua News, US Commander in Afghanistan proposes change in withdrawal plan, 7th Oct 2015, see it online:
<http://news.xinhuanet.com/english/photo/2015-10/07/c_134688471.htm>

[14] د ۱۳۹۴ کال د میزان پر ۱۳مه نېټه، په سي این این تلویزیون کې خپاره شوي خبرونه.

# پیامدهای حضور نظامی روسیه در سوریه



حضور نظامی روسیه در سوریه، بحران در شرق میانه را با چالش‌های تازه مواجه ساخته است. روس‌ها با حضور نظامی و حمایت از حکومت بشار الاسد در سوریه، در کنار ایران و حزب الله لبنان قرار گرفتند و علنا با اهداف غرب به مقابله برخاستند.

به نظر می‌رسد که روس‌ها با این حضور، در برابر یکه‌تازی‌های امریکا و هم‌پیمانانش در شرق میانه عکس‌العمل نشان می‌دهند. ماسکو در گذشته نظاره‌گر خاموش سرنگونی رژیم‌های دردسرساز برای امریکا از جمله سرنگونی معمرالقذافی در لیبیا بود، اما به نظر می‌رسد که از این ببعد نمی‌خواهد فقط نقش تماشاچی را ایفا نماید بلکه قصد دارد در قضایایی که با منافع این کشور در جهان پیوند دارد، با قاطعیت بیشتری عکس‌العمل نشان دهد.

## دفاع از یک رژیم شکست خورده

روس‌ها خود را درگیر دفاع از رژیمی کرده‌اند که عملا یک نظام ورشکسته است. بخش بزرگ این کشور از تسلط حکومت خارج بوده و رژیم برای دفاع از خود، به کشتار بی‌رحمانهٔ مردمش روی آورده است. ملیون‌ها سوری خانه و کاشانهٔ خود را ترک کرده و راهی کشورهای همسایه و اروپا شده‌اند.

دفاع از رژیمی که اکثریت مردمش از آن رو گردانیده‌اند به نحوی یادآور افغانستان در دهۀ ۸۰ قرن گذشته است. دفاع روسیه از آن رژیم، به جای اینکه حافظ منافع روس‌ها در چهارچوب اتحاد شوری آنروز باشد، به شکست این کشور انجامید و به ظهور گروه‌های تندروی منجر شد که روسیه هنوز هم از آن‌ها احساس ناامنی می‌نماید.

## تعبیر از تروریزم

هرچند بهانۀ مداخلۀ روسیه در جنگ سوریه مقابله با گروه "دولت اسلامی" عنوان می‌شود، اما در عمل ماسکو تاکنون در سوریه درگیر جنگ با همان گروه‌هایی است که روزگاری با همتاهای شان در افغانستان جنگیده بود؛ گروه‌های جنگجو چون القاعده و همفکرانش که اکنون امریکا وقتی آن‌ها را با گروه "دولت اسلامی" مقایسه می‌کند، میانه‌روتر می‌یابد!

اعتراض امریکا و غرب این است که جنگنده‌های روسی به جای مراکز گروه "دولت اسلامی"، اهداف گروه‌های میانه‌رو را بمباران می‌کنند؛ اما سرگی لاوروف از میانه‌رو تعبیر دیگری دارد. سرگی لاوروف وزیر خارجۀ روسیه می‌گوید: «آنانی که اعتقاداتی شبیه به تروریست‌ها دارند، آنهایی که مانند تروریست‌ها عمل می‌کنند، مانند آن‌ها حرف می‌زنند، مانند تروریست‌ها لباس می‌پوشند و مانند آن‌ها راه می‌روند، هدف حملۀ ما هستند.» این گفتۀ مقامات روسی با تعریف قصر سفید از تروریسم همخوانی ندارد که فقط گروه‌هایی را "تروریست" می‌داند که منافع امریکا را تهدید نمایند. لاوروف در یک کنفرانس مطبوعاتی در دوم اکتوبر با صراحت گفت که ما تنها با داعش نمی‌جنگیم بلکه جنگ ما با تمام تروریست‌هایی است که در برابر رژیم اسد می‌جنگند.

## هماهنگی میان ایران و روسیه

مقامات روسی حضور نظامی این کشور در سوریه را دارای پیشینه‌ای طولانی می‌دانند که حتی به دوران اتحاد شوروی بر می‌گردد، اما به باور آگاهان، گسترش حضور نظامی فعلی روسیه در سوریه با هماهنگی و کمک ایران و بخاطر حفظ منافع روسیه در منطقه صورت گرفته است. سفرهای اخیر قاسم سلیمانی فرمانده سپاه قدس ایران به ماسکو تصمیم روس‌ها برای مداخلۀ گسترده‌تر، شکل نهایی بخشید. هرچند ایران گزارشات سفر فرمانده سپاه قدس به روسیه را رد کرد، اما مشخص است که وقتی روسیه می‌خواست تصمیمی چنین بزرگ اتخاذ نماید، بدون کمک ایران و هماهنگی با کشوری که از قبل در خاک سوریه نیرو فرستاده است، ممکن نبود.

مقامات ایرانی می‌گویند که روسیه و ایران به کمک حزب الله لبنان در سوریه، به حکومت بشارالاسد برای مقابله با تروریست‌ها "مشورت‌های نظامی" می‌دهند. مشورت‌های نظامی همان اصطلاحی است که امروز کشورهای غربی در کمک به حکومت افغانستان علیه طالبان آنرا به کار می‌گیرند که شامل پشتیبانی هوایی از نیروهای دولتی و حتی حملات زمینی توسط نیروهای ویژۀ این کشورها را نیز شامل می‌شود.

## ناتوانی امریکا در مهار بحران سوریه

استراتژی ضعیف و نامنسجمی که امریکا در بحران سوریه در پیش گرفت، کرملین را به این باور رسانید که امریکا در حال باختن جنگ در این کشور به گروه‌های تندرو است و سقوط اسد خشونت‌گرایی را در سراسر منطقه بیش از پیش تقویت خواهد نمود. تلاش امریکا برای ایجاد یک نیروی میانه‌رو که بتواند هم دشمن بشارالاسد و هم رقیب قدرتمند برای گروه‌هایی چون "دولت اسلامی" باشد، نیز با شکست مواجه گردید. امریکا با وجود مصارف هنگفتی پول، موفق نشد تا ارتشی از عناصر هوادار خود را در این کشور شکل دهد و اکثریت کسانی را که برای این کار آموزش داد، یا به گروه‌های تندرو پیوستند و یا از صحنه غایب شدند.

استفاده از سلاح کیماوی عبور از قرمزی بود که واشنگتن برای رژیم اسد کشیده بود اما با وجود عبور از این خط، رژیم اسد با عکس‌العمل جدی امریکا مواجه نشد و این مسئله به اعتبار امریکا در میان اپوزیسیون اسد به شدت ضربه وارد کرد.

از طرف دیگر امریکا و متحدینش در طول چند سال گذشته به خصوص در وقایع اوکراین نشان دادند که تمایل به رویارویی مستقیم نظامی با روسیه ندارند که این مسئله هم موجب تشویق روس‌ها به مداخله در امور سوریه شده است. اگر غرب در برابر این اقدام روسیه اقدام جدی نشان ندهد، روس‌ها بیش از پیش تشویق خواهند شد. اعتراضات ترکیه بر روسیه به خاطر تجاوز طیارات روسی به قلمرو این کشور، از جانب واشنگتن یک اقدام تحریک آمیز تلقی شده است و اگر این کار ادامه یابد و امریکا در برابر آن اقدامی انجام ندهد، این مسئله بیش از پیش موجب سرافگندگی امریکا خواهد شد.

## چرا سوریه برای روس‌ها مهم است؟

سوال این است که روس‌ها با فرستادن نیرو به سوریه و دفاع از رژیمی که با مخالفت گستردۀ مردمش مواجه است، چه اهدافی را در این کشور دنبال می‌کند؟ روس‌ها برای این تصمیم خود می‌توانند دلایل موجهی داشته باشند که مهمترین آنان پی‌آمدهای مداخلۀ نظامی غرب در کشورهای اسلامی است. مداخلۀ امریکا در افغانستان و عراق به بهانۀ مبارزه با "تروریزم" به تقویت و گسترش آن کمک کرد و در لیبا با سقوط معمرالقذافی، این کشور را عملا به میدانی از هرج و مرج مبدل ساخت.

در سوریه نیز وضع به همان جهت در حرکت است و در صورت سقوط رژیم فعلی، گروه‌های تندرو جانشین بشارالاسد خواهند بود. از جانب دیگر روسیه با اعزام نیرو به سوریه به کشورهای غربی هشدار می‌دهد که وقتی ماسکو از منافع خود در سوریه دفاع می‌نماید، پس باید امریکا و غرب تصور نفوذ به کشورهای آسیای میانه و بعضی از کشورهای اروپای شرقی را از سر بدر کنند، زیرا روسیه هرگز این کشورها را تنها نخواهد گذاشت.

اما در این رابطه یک نکتۀ مهم دیگر هم وجود دارد؛ پیشروی نیروهای مخالف رژیم اسد به سوی لاذقیه در غرب کشور، رژیم بشارالاسد را در مضیقه قرار داده است. تاکنون رژیم اسد شکست‌هایی را در قنیطره، حسکه و حتی در بخش‌هایی از درعا، ادلب و حلب تجربه کرده بود، اما عقب نشینی از لاذقیه می‌تواند به معنای پایان کار اسد باشد.

لاذقیه را می‌توان پایگاه اصلی و سنگر قدرتمند جامعۀ علوی سوریه به شمار آورد که بزرگترین بندر سوریه است و حامیان سرسخت رژیم اسد از همین منطقه اند. اگر اسد این پایگاه را از دست بدهد، دیگر هیچ شانسی برای بقا نخواهد داشت و اگر این بندر استراتژیک به دست نیروهای مخالف اسد بیافتد، طرطوس دومین بندر بزرگ سوریه نیز به دست جنگجویان مخالف رژیم اسد سقوط خواهد کرد و باقی ماندۀ مناطق ساحلی نیز به دست جنگجویان مخالف خواهد افتاد.

نیروی دریایی روسیه در بندر طرطوس یک پایگاه بحری تاسیس کرده است و به همین دلیل این بندر استراتژیک در ساحل مدیترانه، برای روسیه اهمیت فراوان دارد.

## نتیجه گیری

کشمکش میان روسیه و غرب در سوریه، هرچند با تقویت نظامی روسیه در این کشور وارد مرحلهٔ جدیدی شده است، اما احتمال اینکه این حضور موجب رویارویی نظامی میان روسیه و امریکا در این منطقه گردد، زیاد محتمل نیست. امریکا می‌خواهد پای روسیه را به منازعهٔ سوریه بکشاند و اگر روس‌ها با اعزام نیروهای زمینی برای جنگ با مخالفین دولت اسد پا در جای پای ایران بگذارند، امریکایی‌ها ترجیح خواهند داد تا به تدریج روس‌ها را در سوریه به حال خود شان بگذارند تا افغانستان دیگری را بعد از سقوط اتحاد شوروی، این بار در یک کشور اسلامی دیگر تجربه نمایند.

بر بنیاد همین سیاست، اکنون امریکا به جای تقاضا برای سرنگونی رژیم اسد از راه نظامی، خواهان حل سیاسی بحران سوریه از راه مذاکره است. جان کری وزیر خارجهٔ امریکا از ایران و روسیه خواست تا با استفاده از نفوذ شان، بشارالاسد را به پشت میز مذاکره بیاورند و برکناری اسد را تا پایان جنگ در سوریه به تعویق اندازند.

از جانب دیگر مداخلهٔ روسیه در سوریه در همگامی با ایران، کشورهای محافظه‌کار عرب را بیش از پیش با روسیه دشمن خواهد ساخت و این احساس می‌تواند پشتوانهٔ کمک به گروه‌های مخالف اسد در سوریه باشد.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: (+93) 784089590

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 747575741 drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.